# د نورستان غم ځپلی ولس ته د جما اجراییي شورا
# د خواخوږۍ تسلیت

کله ناکله طبیعت په داسې قهر راپاځېږي چې د انسانی ژوند د هیلو مانۍ او لاسته راوړنې د سترګو په رپ کې دړې وړې کړي. د نورستان په غرونو او درو کې وروستیو خونړیو سیلابونو همداسې یوه زړه بوږنوونکې غمیزه رامنځته کړه. هغه درې چې پرون یکې خلک دښکلی طبیعت ننداریې ته تلل میلې او مجلسونه یې جوړول، د ماشومانو یکې له خنداو ډک ځوږ و، خو نن یکې د میندو ، خویندو د چیغو، د یتیمانو د د زړه له سوزه ډکه ژړا، او د بې وسه سپین ږیرو په مخ د ترمو اوښکو او آسویلیو ډک شور او غوغا ده. ځکه د هغوی کورونه چې د کلونو په خواریو او زحمتونو جوړ شوي وو، یو دم د ځو شېبو سیلابونو په بې رحمه څپو لاهو شول. د خلکو د ژوند ټولې هیلې، د بزګرانو د کروندو شنه فصلونه، د بې وزلو کورنیو لږه شتمني او د ماشومانو راتلونکې د سیلابونو په خړو اوبو کې یودم ډوب او وتوګل شوه.

نن نورستان یوازې د یو ولایت نوم نه دی؛ نن نورستان د افغانستان د ټپي زړه نوم دی. هلته چې هره اوښکه د غم ځپلی ولس له سترګو تویېږي، باید د هر افغان په سترګو کې د هغې اوښکې انعکاس راوځلېږي که داسې نشی عاطفه او انسانیت خپل مفهوم له لاسه ورکوی. هره مور چې په سیلاب لاهو شوی خپل زوی لټوي، هر ماشوم چې د خپل پلار د ډوبیدو غږ اوری، هر سپینږیری چې د خپل وران کور کنډوالې ته حیران ولاړ وي، موږ ته دا پوښتنه راجع کوي چې : ایا زموږ په زړونو کې دوی ته د لاسنیوی انسانی عاطفې ژوندی دی؟

موږ د دې غمیزې له امله ټولو هغو درنو کورنیو ته چې خپل عزیزان یې په دې طبیعی غمیزه کې له لاسه ورکړي، د زړه له کومې خپله ژوره خواخوږي او صمیمانه تسلیت وړاندې کوو. د دې غمیزی د شهیدانو روح ته دعا، ټپیانو ته عاجله روغتیا او غمجنو کورنیو ته د صبر او زغم هیله کوو. که څه هم هېڅ خبره او یا کړنه د عزیزانو د مرګ تشه نه شي ډکولای، خو دا باور لرو چې خپل ولس سره غمرازی، دلاساینه او ګډه خواخوږي لږ تر لږه د غم بار سپکولای شي.

دې سترې غمجنې حادثې سره یوازې خواخوږي بسنه نه کوي. دا اوښکې که غبرګون را ونپاروی او په عمل بدلې نه شي، ژر وچیږي او هیرېږی؛ خو د مسئولیت احساس هغه انسانی ستر ارزښت دی چې د انسان نوم او معنا ژوندۍ ساتي. همدا اوس د اقدام وخت دی، نه د تماشا.

سره له دې چې طالبانی بنسټپاله وحشی او جاهل نظام د نورستان غمیزه د خدای قهر ګڼی او دې غمیزې ته ډیره پاملرنه نلری خو مونږ له دوی څخه په کلکه غواړو چې د نورستان د سیلاب ځپلو سیمو د انسانانو ژغورنې لپاره ټول امکانات بسیج کړي. د ژغورنې ډلې، روغتیایی ټیمونه، خوراکي او پوښاکی مرستې، پاکې اوبه، درمل، خېمې او نور اړین توکي دې پرته له ځنډه زیانمنو سیموته و رسول شي. د ویجاړو شویو لارو سړکونو او پلونو رغول د سمدستی پیل کړی شی. بې کوره شویو کورنیو لپاره د سرپناه عاجل مؤقتی هستوګن ځایونه برابر شی ترڅو د ډار او ویرې له ماحول نه راووځی. او د کورنیو راپېښ شویو زیانونو جبران لپاره عملي پروګرامونه باید د واکمن نظام د عاجل لومړیتوب په توګه ترسره شي. اوس نو ډیره اړینه ده چې دهیواد هر وګړی په دې نازک حالت کی خپله مرسته او لاسنیوی د خپل اسلامی، انسانی او زړه سواندی ملی- اخلاقی عواطفو د احساس مسؤلیت پر اساس او د انسانی وجدان اصلی واکمن زواک په توګه، د نورستان د خلکو په دې زړه بوږنوونکی ځانی او مالی زیان او کړاو په ډیرو بدو شېبو کې د عملی ازموینی په ډګر کې وښایی نه د لافو، دوړو او دباب په میډیا کې.

همدارنګه، د هېواد له سوداګرو، پانګه‌والو او شتمنو هېوادوالو څخه په ډېر درنښت هیله او غوښتنه کوو چې د خپل وجدان، ایمان او ملي مسئولیت غږ واوري. شتمني هغه وخت ارزښت لري چې د یوه وږي ماشوم لپاره یوه مړۍ ډوډۍ ورکړی شي، د یوې کونډې اوښکې وچې کړي او د یوه بې کوره انسان لپاره د سر دپاسه سیوری جوړ کړي. دا لاسنیوی چې نن د یوه غمجنه انسان لاس ونیسي، سبا به د تاریخ او وجدان په محکمه کې په عزت یادېږي.


ایمیل آدرس : - ks4920326@gmail.com - jaswrshja66@gmail.com ویبسایت : http://www.afghanpf.com

له ټولو ملي او نړیوالو بشري مرستندویه بنسټونو، خیریه ټولنو او نړیوالو سازمانونو څخه هم هیله کوو چې نورستان یوازې پرېنږدي. دا خلک یوازې د بېړنیو خوراکي مرستو اړتیا نه لري؛ هغوی د ژوند د بیا پیلولو، د کورونو د بیا جوړېدو، د ښوونځیو، روغتیایي مرکزونو او د ژوند د بنسټونو د بیا رغولو لپاره مرستې ته اړتیا لري. هره مرسته، که هر څومره کوچنۍ وي، د یوه انسان د ژوند د ژغورلو خورا ارزښت لري.

**دا غږ مو د افغان ولس وجدان ته دی:**

راځئ چې د قوم، ژبې، مذهب، سیمې او سیاسي اختلافونو له تیاره سوړو سمبوړو را ووځو. طبیعي پېښنو هېڅکله د انسانانو قوم، ژبې، مذهب، سیمې او سیاسی نظر او هویت نه دی پوښتلی؛ دا زړه بوږنوونکې څپې په هرچا بی تو پیره ورځی او هر څوک ځپي. نو زموږ همدردي، مرسته او لاسنیوۍ هم باید بې له هر ډول توپیر او شرطه وي.

که نن د نورستان د راپېښ شوی غمجن ویر په وړاندې چوپ پاتې شو، سبا به تاریخ زموږ چوپتیا د بی احساسۍ، بی مسؤلیتۍ او د بېپروایۍ په تور محکومه کړي. او که نن د خپل نورستانی خور او ورور لاسنیوۍ وکړو، د خپلې خور اوښکې پاکې کړو او د یوه یتیم ماشوم لپاره د امید څراغ بل کړو، نو راتلونکی نسلونه به زموږ انسانی عواطف، ورورولی، او عالی اخلاقی کړنې د ملی یووالی د بېلګې په توګه تل یادې ساتی.

**نورستان زموږ او تاسو مرستې ته همدا اوس اړتیا لري؛ نه سبا، نه بله اوونۍ.**

**د یوه ملت عظمت او سرلوړی یواځې د جګړو په برياوو کې نده، بلکې د خپلو غمجنو خلکو د لاسنیوي، ملی یووالی او انسانی کرامت ته داحترام په ازموینه کې سنجول کیږي. راځئ چې دا کړنې د عزت، پاک وجدان او وروولئ په آزموینه کې همدا اوس پلې کړو!**

کمیته فرهنگی  جبهه مردم افغانستان «جما»

اول اسد 1405 شمسی مطابق 23 جولای 2026 میلادی